استقلال
خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی
۱۸ دسمبر، ۲۰۲۲

# په اتلسم او نونسم قرن کي د افغانستان ځيني علمي او ادبي کورنی



کله چي احمدشاه بابا په ۱۱۶۰ هـ کال د کندهار په شير سُرخ کښي د لويي جرګي له خوا په شاهي انتخاب سو، نوده ته يو پاشلي اوغير متحد اوخراب مملکت سپارل سوي ۆ .افغانستان د هرات د تيموريانو ترزماني را وروسته دوه سوه کاله د اجانبو د تاخت و تاز ځاي ۆ، او داسي ئې خپل قديم عظمت او مرکزيت بايللی ۆ، چي پرڅو ټوټو ويشل سوئ او د ملوك طوايف بده او ناوړه حکمراني هم روانه وه.

په داسي حال کښي نو علم اوادب هم مړاوئ کيږي، او فرهنګ او ادب ته دچاپام هم نه وي .په دغو دوو پيړيو کښي د افغانستان خلك د شرقي او غربي او شمالي قواوو سره په جنګ اخته وو، دوي خپله آزادي ساتله، او په دغو وختو کښي د روښان، خوشحال، ايمل، ميرويس، شيرخان غوندي ملي غورځنګونه د پردو په مقابل کښي پېښ سويدي .داسي ښکاري چي په عين دغه حياتي جنګ

کښې د خلکو علمي او ادبي او فرهنګي ذوق کورټ نه ؤمړ .ځکه چي روښان او خوشحال د جنګ په میدان هم قلم چلاوه، او ادبي کورنۍ ئې جوړي کړې، اوبیا چي د هوتکو په زمانه کښې شاه حسین هوتك لړ. څه آرام پیداکئ، نو موږ ګورو چي  د نارنج په مانۍکښې د ده دربار یو ادبي انجمن ؤ.
احمدشاه بابا پخپله هم باذوقه او ادیب سړي ؤ، له تصوف سره ئې ډېره دلچسپي درلوده او په پښتو د شعر دېوان لري، دده زوي تېمور شاه هم د دري او پښتو دېوان جوړ کړئ، او شاه شجاع په دري د شعر دېوان لري، شهزاد عبدالرزاق د شاه زمان اوشهزاده نادر د شاه شجاع زوي او یو څو نور د احمدشاهي کورنۍ شهزاده ګان په دري ژبه ښه شاعران تېر سویدي.
احمدشاه بابا ځیني علمي کورنۍ پخپل مملکت کښې وروزلې، چي تر ده وروسته دغه کورنۍ ډیري ادبي اوعلمي اوسیاسي کارنامې لري، او دلته زه یو څو علیمي کورنۍ درښیم:
دکندهار په بارکزو کښې د خانعلوم یا خان ملا کورنۍ چي د قاضي القضات منصب د استقلال تر جنګه پوري په دې کورنۍ کښې ؤ، اوپه هغو وختو کښې داوسني وزیر عدلیه په څیر وو، په دې کورنۍ کښې مؤلفان، شاعران اولوي قاضیان پیدا سویدي،  مثلاً : ملا محمد سعید بارکزي دشاه محمود سدوزي قاضي القضات ؤ، چي دده زوي خانملا قاضي عبدالرحمن خان دبارکزو په دربارکښې دغه منصب درلود، اودنصیحه المؤمنین په نامه ئې یو کتاب تالیف کړی دئ.
دغسي هم خانملا قاضي عبدالسلام د محمد سعیدزوي د امیر شیر علیخان په دربار کښې قاضي القضات ؤ چي دده په تشویق امیر محمد د عبدالقادر سلیمان خیل زوي د امیر شیرعلي خان په نامه رساله الدافعه تالیف کړه.
بله علمي کورنۍ د ملا اسماعیل الکوزي وه، چي د نادر افشار معاصر ؤ د ده کورنۍ په احمدشاهي دربار کښې معززه وه، او زوي ئې ملا احمد دمعقولو او منقولو استاد او دکندهار دښار لوي قاضي ؤ، چي بیان الوافیه لطوایف الصوفیه، تعلیم السلوك، کاشفه فارفه ئې تالیفات دي، د ربیع الثاني په شپږمه په ۱۲۳۳ کال وفات سویدی .او د ده ورور ملا پیرمحمد هم د کندهار مشهور عالم اومؤلف ؤ، چي یو کتاب ئې د عقیده المشایخ والعلماء په نامه په عربي ژبه کښلی دی.
د قاضي غلام محمد هوتك کورنۍ هم په کندهار کښې مشهوره وه، او دی د ۱۲۵۰ هـ په حدودو کښئ د کندهار لوي قاضي ؤ، چي په  ۱۲٦٤ هـ کال ئې ارشاد الحق په عربي وکښښ، د ده زوي ملا عبدالاحد هم دانشمند سړی ؤ او کله چي سیدجمال الدین افغاني په کندهار کښې ؤ، نوئې له دې عالمه سره آشنایي درلوده او پخپلو یاداښتو کښې ئې نوم یادوي.
بله علمي کورنۍ د محمد نور بن محمد حسن توخي  وه، چي دا سړی د شاه فقیرالله جلال آبادي

شاګرد ؤ، او په ۱۲۳۰ هـ ئې د جامع السلوك کتاب په عربي کښلی دی، دده اخلاف په کندهار کښي د قرآن په تفسير مشهور دي.

د ملا بابړ مسه خيل کورنۍ هم دهوتکو له زماني څخه په کندهار کښي مشهوره وه، چي زوي ئې ملا فيض الله د منطق يوه رساله په عربي کښلې وه، او بيا نو دده زوي علامه ملا حبيب الله محقق کندهاری خورا لوي عالم ؤ، چي ۳۳ جلده کتابونه ئې په عربي، دري، پښتو په رياضي ، منطق، اصول فقه، حديث، تاريخ، تصوف، اخلاق او نورو مروجو علومو کښي تاليف کړيدي، او تر ده وروسته مولوي عبدالرحيم دامير شير عليخان په دربار کښي او بيا دده زوي مولوي عبدالرؤف د امير عبدالرحمن خان په دربار کښي ملای حضور ؤ، او ددې کورنۍ نور پوهان تراوسه پوري هم ډير تاليفونه او علمي آثار لري.

د هرات د سلجوقيانو علمي کورنۍ هم ډير شهرت درلود، ددوي مشر نيکه ملا محمد په روز آباد کښي ښخ دی، چي زوي ئې علامه ميرزا، احمدشاه بابا هرات ته راووست، او د پای حصار مدرسه ئې ور وسپارله .او وروسته ډير علماء او مدرسان ځني راووتل، مخصوصاً ملا محمد عمر د محمد ايوب زوي د ملا ميرزا لمسی کېدی، خورا مشهور عالم او مؤلف ؤ، چي دده له تاليفاتو څخه الملهم په اصول فقه کښي مشهور دی، او ملا محمد رفيق سلجوقي د محمد صديق زوي يوه د نحوي رساله تاليف کړې، او محمودمشرف او خليفه محمد حسين خوش نويس هم ددې علمي کورنۍ مشهور سړی ؤ، او تراوسه لاهم دا درنه کورنۍ تکړه ليکوال او پوهان او هنرمندان لري.

د افغانستان بله مشهوره علمي کورنۍ دپېښور قاضي خيلان دي، چي اخوند ترکمان د تاج خان زوي د کندهار له غوړي مرغې څخه دپېښور امازو ته ولاړ، او دده زوي ملا محمد غوث د احمدشاه بابا له خوا دپېښور لوي قاضي ؤ، چي دمنطقو پر ميرزا باندې شرحه ليکلې، اوبل کتاب د شرح الشرح په نامه لري، چي داحمدشاه بابا ځيني عرفاني اقوال ئې د تصوفو په رڼا کښي شرحه کړي دی.

د ده لمسی عبدالکريم د دادالله زوي د نصاب التوحيد مؤلف، او قاضي محمدحسن ملقب په خان علماء د سردار پاينده خان دکورنۍ استاد اودشاه شجاع وزير ؤ، او قاضي طلا محمد دده زوي په دري او عربي د شعر دېوانونه لري، اوپه عربي ئې ډير کتابونه په فقه او حديث کښي تاليف کړيدي، اوبل مشهور سړي قاضي عبدالقادر د قاضي حسن لمسی دی، چي دامير شيرعليخان ددربار عسکري سرمنشي ؤ، او دعسکري قواعدو کتاب ئې په پښتو او دري له انګريزي څخه ترجمه کړي او دکابل دشمس النهار په مطبع کښي چاپ کړيدی.

د هرات د برناباد د ميرزايانوکورنۍ هم د سدوزو د عصر مشهور ادبي او اداري کورنۍ ده، چي

میرزا ارشد د خواجه محمدصلاح زوي متخلص په فایض دهرات دابدالي دربار سرمنشي او خطاط او د دري دېوان خاوند دئ، یو مثنوي د ابرګهربار په نامه هم لري .او میرزا ابوطالب مایل د ارشد وراره هم د شعري دېوان خاوند دی، او میرزا رضاه د شاه محمود او فتح خان منشي وو، چي د اشعارو مجموعه او اربعین او تذکره برناباد ئي تالیف کړې ده.

د مجددي حضراتو کورنۍ هم د احمدشاه بابا له وختو څخه په ټول افغانستان اوهند کښي ادبي او روحاني شهرت درلود، چي شاه نظام الدین متخلص په نظام په شکارپور کښي د دري دېوان خاوند ؤ، او شاه صفي الله متخلص په صفي هم دری دېوان اوڅلور نور کتابونه تالیف کړیدي، او په ۱۲۱۲ هـ د یمن په حدیده کښي وفات سویدي .شاه عبدالباقي متخلص په باقي اوغلام عمر د ده زوي او ناصر الدین جانان او شمس المشایخ فضل محمد فضلي هم د دېوان خاوندان دي، شاه فضل الله دشاه غلام نبي زوي عمده المقامات او د شعر دېوان او محمدحسن د عبدالرحمن زوي دانساب الانجاب او انیس المریدین خاوند، او میر احمد متخلص په اظهر د هفت مجلس او سبیل الرشاد او غزلیاتو د دېوان او شیږو مثنویاتو مؤلف دئ .د وکیل الدوله عبدالله خان پوپلزي کورنۍ هم داحمدشاهي او سدوزو د عصر مشهوره ادبي او اداري کورنۍ ده، چي د وکیل الدوله زوي محمدعلم خان علم په دری ژبه شعر وایه، او میر هوتك خان هم د دري اشعارو غټ دېوان لري، له دې کورنۍ څخه الله یارخان راسخ اومولوي محمدابراهیم هم دعلم او فرهنګ او شعر اوادب خاوندان وو.

د شیخ سعدالدین احمد انصاري کورنۍ هم دعلم اوشعر او تصوف رجال دي، دده دېوان شور عشق نومېږي اونور ۳٤ کتابونه لري ، چي دکابل په ده یحي کښي په ۱۲۲۵ هـ وفات سویدی .میر ظهور الدین ظهور هم دشعري دېوان خاوند او میر امام الدین متخلص په درویش دپښتو اودري شاعر اومؤلف او میر قطب الدین فارغ او میر حسام الدین احمد او میر نجم الدین احمد او میر نظام الدین احمد، او میر فخرالدین مولوي، او میر ناموس الدین او میر سیف الدین عزیزي له دې کورنۍ په دری ژبه شاعران تیر سویدي.

د حاجي جمال خان محمد زي کورنۍ هم د سدوزو په دوره کښي علاوه پر اداري اوجنګي کارنامو ادبي ښکلي آثار لري د سردار پاینده خان ورور هارون خان ګرشکي داسي دري دېوان لري، چي اشعار ئي خورا خواږ اوروان او دقدر وړ دي .سردار مهر دل خان مشرقي هم دبیدل دسبك هند په پیروي دری دېوان، او مثنوي اوډېر تالیفونه لري.

د امیر دوست محمد خان دوه زامن سردار احمد خان او سردارغلام حیدر خان د دېوان خاوندان دي، د سردار غلام محمد خان طرزي او دده دزوي محمد امین عندلیب دېوانونه هم سته، او ددې

کورنۍ څخه سردار شهنواز خان د سردار سلطان احمد سرکار زوي او سردارمحمد حسن خان د وزیر فتح خان لمسی او سردار محمد عزیز خان او سردار عباس خان او سردار خوشدل خان د مهردل مشرقي زوي هم داشعارو او تالیفاتو خاوندان دي .له دې څېړني څخه ښکاري چي داحمدشاه بابا څخه را وروسته که څه هم هیوادپه ډیرو داخلي او خارجي شخړو گرفتار ؤ، مگر علمي اوادبي ذوق بالکل نه ؤ مړ، خود لیکوالو او ذوقمندانو پر فکر باندي دوه جریانه ډیر غالب وو:

لومړی په شاعري کښي دسبك هند پیروي مخصوصاً د بیدل په طرز شعر ویل او دده ډیر تقلید.

دوهم په تصوف کښي مخصوصاً دنقشبندي طریقې، او د حضرت مجدد د فکري مکتب پیروي .چي په دغه شېوه کښي د حضرت مجدد مکتوبات او د حضرت حاجي آثار دواړه خورا مؤثر وه (۱).

**(۱) وږمه مجله، ۱۳٤٦ کال، دریمه گڼه، ۱ مخ.**

پای